**اطلاعاتو ته لاسرسی د روڼتیا او ښې حکومتوالی نښه ده**

اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون ژمن دی چې اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون په رڼا کې له وړاندې خپلې کړنې او اجرات خپاره کړي.

اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون کې، د سلواغې له ۱۹ تر ۲۴ نېټې پورې مهم تر سره شوي فعالیتونه.

**حقوقي سلاکار:**

۱- د کمېسیون د رهبرۍ هیات غونډو طرزالعمل برابرول او بشپړول او د کمېسیون له غړو سره یې شریکول، د یادې مسودې کې بدلون راوړل د کمېسیون غړو په وړاندېزونو او نظریاتو په اساس راوړل شوي.
۲- د کورنیو چارو وزارت وزیر امر پر بنسټ د اطلاعاتو ارایي محدودیت په برخه کې د کمېسیون رسمي اعلامي برابرول.
۳- د کمېسیون د غړو کاري چارچوب برابرول.

**بشري سرچیني:**

۱- د نغدي معتمد، جنسي معتمد او ډرېورانو د دندو لایحو بشپړول.
۲- د ازادې سیالۍ له لارې د ډرېورانو بستونه اعلانول.
۳- شکایتونو ته د رسېدني امریت ۳ بست او د بشري سرچینو کارپوه ۴بست نوماندانو  ته د شارټ لېست پایلو اعلانول.

**د شکایتو څانګه:**

۱- سترې محکمې او د احصایې ملي ادارې ته د کمېسیون فیصلې لېږل تر څو غوښتل شوي اطلاعات متقاضي ته ورکړي.
۲- د کابل ښاروالی، اطلاعات اوفرهنګ وزارت څخه د شکایت کوونکي سره د شکایت تعقیبولو لپاره اړیکه نیول.
۳- د اړیکي او بریښنالیک له لارې د اطلاعات او فرهنګ وزارت، بهرنیو چارو وزارت او د احصایه ملي له اطلاع رسونې مسولینو سره اړیکه نیول تر څو اطلاعات شکایت کوونکو ته ورکړي.

**د څارنې څانګه:**

۱- اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون ۱۵مې مادې پر بنسټ، د پنځو ادارو له وېب پاڼو څخه څارنه.

۲- د ادارو څارل شویو ویب سایټونو د ښوالي لپاره لازمي مشورې.

۳- د څارل شویو ادارو له اطلاع رسونې مسوولینو سره مشورتي غونډه